# ماشومان

## اولیاءِ کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی

12-December-2019

هفته وراه د سُنّتو دکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو دك بيان

(For Islamic Borthers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# ماشومان اولیاءِ کرام

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** کله چه جُمات ته داخل شئ، او یاد مو وي نو د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څو چه جُمات کښے ئے نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي. یاد ساتئ! جُمات کښے د خوراك څښاك، اُوده کیدو یا پیشمني او روژه ماتي کولو، تر دے چه د آبِ زَم زَم یا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِیَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِکاف نِیَّت هُم صرف خوراك څښاك یا اُوده کیدو د پاره کول نه دي پکار بلکه چه مقصد د **اللہ** تعالیٰ رِضا وي. ''**فتاویٰ شامی**'' کښے دي: که څوك جُمات کښے خوراك څښاك یا اُوده کیدل

غوارړي نو د اِعتِکاف نِیَّت دِ اوکړي، لږ ساعت دِ ذِکْرُالله اوکړي بیا چه څه غوارړي کوي دِ (یعني بیا که غوارړي نو خوراك څښاك کولے شي او اُوده کیدے شي)

## د دُرُود شریف فضیلت

زمونږ خوږ آقا مکي مدَني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: اے خلقو! بیشکه په ورځ د قیامت به د هغے د سختے ویرے او حساب کتاب نه زر خلاصے موندونکے هغه کس وي چا چه تاسو کښے په ما باندے دُنیا کښے کثرت سره درود شریف لوستلے وي. (اَلْفِردَوس بمأثور الْخِطاب، ۵/۲۷۷ حدیث:۸۱۷۵)

ے نبی کی شان میں ہو جس قدر دُرود پڑھو
مُحِبّو! پاؤ گے جنت میں گھر دُرود پڑھو
بچاوے تم کو جو دوزخ سے ایسے مُحْسِن پر
سدا سلام کہو عُمر بھر دُرود پڑھو [1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدو نه مخکښے ښه ښه نِیَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: **"نِیَّةُ الْمُؤْمِنِ خَیْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ"** [یعني] د

---

1...نورِ ایمان، ص۵۶، ملتقطا.

مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

**مَدَني ګل**: نيك او جائز كار كښے چه څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

## د بيان اوريدلو نيتونه

۞ ښو ښو نِيَّتونو سره د شروع نه تر آخرے پورے بيان واورئ ۞ پوره تَوجُّه سره د بيان اوريدلو نِيَّت اوكړئ ۞ كه قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هُم اوكړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!        صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د رَبِيعُ الْآخِر مياشت جاري ده، دا مياشت د پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره خاص نِسبت لري، اوس يو څو ورځے مخكښے د هغوئي [د عُرس تاريخ] غتهٔ [يعني سالانه] يوولسمه شريفه تيره شوي ده، په دے كښے هيڅ شك نشته چه حُضُور غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مور زاده يعني پيدائشي وَلِيُّ الله وو. د حُضُور غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وِلادت [يعني پيدائش] په وخت كښے چه كوم حيرانوونكي واقعات شوي وو هغه ډير مشهور دي.

---

[1] (معجم كبير سهل بن سعد الساعدى...الخ، ٦/١٨٥، حديث ٥٩٤٢)

## غوثِ پاك مادَر زاد [یعني مور زاده] ولي وو

يو خبره خو دا چه په كومه ورځ چه غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه پيدا شو په هغه ورځ د دوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د پیدائِش په وطن **جِیلان شریف** کښې یوولس سوه ماشومان پیدا شو او هغه ټول هلکان وو او ټول **ولِیُّ الله** جوړ شو (مړ ماشوم، ص٤)

د حضرت سیِّدُنا غوثُ الاعظم رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه والده ماجِده حضرتِ سَیِّدَتُنا **اُمُّ الۡخَیۡر فاطمه** رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهَا به فرمائیل چه زما ځوئ عبدُ القادِر چه پیدا شو نو هغه به د **رَمَضَانُ الۡمُبَارَك** په ورځ کښے زما پئ نه څښکل. بل کال د رمضان میاشت د خړ موسم [یعني وریَځو وغیره] په وجه ښکاره نه شوه نو [صبا له] خلق معلوماتو د پاره ما له راغلل نو ما ورته اُووئیل چه "زما ځوئ پئ نه دي څښلي." بیا معلومه شوه چه نن د رمضان ورځ ده او زمونړه په ښار کښے دا خبره مشهوره شوه چه سیِّدانو کره یو ماشوم پیدا شوے دے چه هغه د **رَمَضَانُ الۡمُبَارَك** په ورځ کښے پئ نه څښي. (بهجة الاسرار ص172)

د هغوئي رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه بعضے کرامتونه خو د مور په ګیډه کښے هُم ظاهر شوي وو، [په هغے کښے یو کرامت دا دے] چه د مور په ګیډه کښے وو او کله به ئے مور له پرنجے ورغلو او هغے به **اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه** اُووئیلو نو دوئي رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه به په ګیډه کښے په جواب کښے **یَرۡحَمُكِ اللهُ** وئیلو. هُم دغسے چه پیدا شو نو هغه وخت ئے شونډے په قلاره خوزیدلے او د **الله الله** آواز راتللو. (مړ ماشوم، ص ٣، ٤)

امیرِ اَهلِسُنَّت حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د حضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په شان کښے فرمائي:

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د پیرانِ پیر، روشَن ضمِیر غوثُ الاعظم دستګیر شیخ عبد القادِر جِیلاني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه علاوه نور هُم ډیر داسے بُزرګانِ دِین شته دے چه هغوئي پیدائشي طور د **الله** پاك ولیان وو، نن به مونږه د هغوئي په باره کښے د اوریدلو سعادت حاصلوو. راځئ چه د هغه ماشومے وَلِيَّه تذکِره واورو چه د هغے ذِکر **اَللّٰه** پاك په قرآنِ مجید کښے فرمائیلے دے.

## د حضرت بي بي مریم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهَا تذکِره

په هغه ولیانو کښے یوه د **الله** پاك د خوږ نبي حضرتِ سَیِّدُنا عیسٰی عَلَيْهِ السَّلَام والِده صاحبه حضرت بي بي مریم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهَا ده. د بي بي مریم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهَا د والِد صاحب نوم حضرتِ عِمران رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه او د والده صاحبے نوم حضرت بي بي حَنَّه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهَا وو. د بي بي مریم والِد حضرتِ عِمران رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د **الله** تعالٰی د نبي حضرتِ سَیِّدُنا زکَرِیَّا عَلَيْهِ السَّلَام ساندهٔ وو، یعني د حضرت عِمران زَوجه مُحترمه او د حضرتِ سَیِّدُنا زکَرِیَّا عَلَيْهِ السَّلَام زوجه **محترمه** خپل مینځ کښے خویندے وے. د حضرتِ عِمران او حضرتِ حَنَّه د واده یوه موده شوي وه، خو د اولاد نعمت ورته نه وو حاصل شوے، وخت تیریدلو تیریدلو تر دے چه هغوئي د عُمر هغه حد ته اورسیدل چه په هغے کښے عام طور د اولاد کیدلو اُمِّید ختم شي خو هغوئي نااُمِّیده

نه وو، یوه ورځ حَنَّه رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہَا د یوے ونے په سوري کښے ناسته وه چه په یوه مرغۍ ئے نظر پریوتلو چه هغے په خپلو بچو دانے خوړلې. په دے خبره د هغے په زړه کښے د اولاد شوق نور زیات شو، نو هغے منښته اوکړه چه که **اللّٰه** پاك ما ته اولاد راکړو نو زه به هغه د بیت الـمقدس [د خدمت] د پاره وَقف کړم. (تفسیر الخازن، پ۳، آلِ عمران، تحت الآیة:۳۵، ۱/۲٤۰، ملتقطًا) په هغه دَور کښے به د بیت الـمقدس د خدمت د پاره هلکان وقف کولے شو، جینکۍ به نه وقف کیدلے. هغه ماشومانو به د بالِغ کیدو پورے هلته خدمت کولو، د بالِغ کیدو نه پس که به د هغوئي خوښه وه نو هُم دغسے به اوسیدل او که هغوئي به غوښتله نو د دُنیا په کار روزګار کښے به مشغول شو. (تفسیرِ نعیمی، پ۳، آلِ عمران، تحت الآیة: ۳۵، ۳/۳۷۱۔) (تفسیر الخازن، پ۳، آلِ عمران، تحت الآیة: ۳۵، ۱/۲۳۹، بتغیر.)

شپے ورځے تیریدلے، بیا یوه ورځ هغه د خوشحالۍ ورځ هُم راغله چه د حضرتِ حَنَّه رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہَا لُور اوشوه، دا د هغوئي د پاره ډیره د خوشحالۍ موقع وه خو ولے چه هغے د ځوئ کیدلو په اُمِّید هغه د بیت الـمقدس د خدمت د پاره د وقف کولو منښته کړي وه او د هغے د اُمِّید خلاف جینۍ پیدا شوه چه د هغے په وجه نذر [یعني منښته] پوره کول په ظاهره نه شو کیدلے، حضرتِ حَنّه رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہَا د هغه ماشومے نوم [مریم] کیښودلو او ولے چه هغے هغه بیت الـمقدس کښے د ساتلو نِیَّت کړے وو ځکه ئے هغه په یوه کپړه کښے اونغښتله او بیت الـمقدس ته روانه شوه.

بیت الـمقدس کښے هغه وخت څلور زره خادِمان اوسیدل او د هغوئي سرداران 27 یا 70 وو او د هغوئي امیر حضرتِ زَکَرِیَّا عَلَیْہِ السَّلَام وو. (تفسیر نعیمی، پ۳، آلِ عمران، تحت الآیہ: ۳۷، ۳/۳۸۱، بتغیر قلیل۔) حضرتِ حَنّه رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہَا چه خپله لور هلته یوړله نو هغه ئے د هغه ځائے د عُلَماؤُ په وړاندے پیش کړه او اوئے وئیل چه دا زما لُور ده چه دا ما (د **اللّٰه** پاك د عبادت او د بیت

الــمقدس د خدمت د پاره) آزاده (یعني وقف) کړي ده. اګر چه جینکۍ د دے خدمت صلاحِیت نه لري خو (ولے چه دا ما وقف کړي ده ځکه) زه دا بیرته کور ته نه شم وړلے، لِــهذا تاسو حَضَرات زما دا نذر [یعني منښته] قبوله کړئ (الدر المنثور، پ۳، آلِ عمران، تحت الآية:۳۶، ۱۸۳/۲.) هغه عُلَمائے کرامو د هغه ماشومے پالنه د ځان د پاره د عِزَّت او وقار سبب اوګنړله او هر یو د هغے د پاره خپل خدمات پیش کول غوښتل. آخر دا چه د هغه پاکبازے ماشومے د پالنے ذِمه د حضرتِ زَکَرِیَّا عَلَیۡہِالسَّلَام په حِصّه کښے راغله چه هغوئي د هغه عُلَمائے کرامو سردار او د ماشومے د ترور خاوند وو. (تفسیرِ نعیمی، پ۳، آلِ عمران، تحت الآیہ:۳۷، ۳۸۱/۳، بتغیر۔تفسیر الخازن، پ۳، آلِ عمران، تحت الآية:۳۷، ۲٤۱/۱، مختصرًا۔تفسیر الجلالین مع حاشية الصاوی، پ۳، آلِ عمران، تحت الآية:۳۷، ۲۳۱/۱، مختصرًا.)

هغوئي عَلَیۡہِالسَّلَام په بیت الــمقدس کښے د جُمات د زمکے نه لږه اوچته یوه کوټه جوړه کړه او هلته ئے هغه ماشومه اوساتله او هلته به سِوا د هغوئي نه هیڅ څوك هُم نه ورتلل. د خوراك څښاك د ضرورت سامان به هم صرف هغوئي ور وړلو (جلالین مع الصاوی، پ۳، آلِ عمران، تحت الآية:۳۷، ۲۳۱/۱.) او چه بیرته به تللو نو ټولے دروازے به ئے بندے کړے او جندره به ئے کړے [یعني تاله به ئے ورته اولګوله] (روح المعانی، پ۳، آلِ عمران، تحت الآية:۳۷، ۱۸۶/۳، بتغیر قلیل) هغوئي عَلَیۡہِ السَّلَام به چه هلته د خوراك څښاك سامان وروړلو نو هغه ماشومے سره به ئے بے موسمه میوے لیدلے، یعني د اُوړي میوے په جمي کښے او د جمي میوے به ئے ورسره په اوړي کښے لیدلے. (جلالین مع الصاوی، پ۳، آلِ عمران، تحت الآية:۳۷، ۲۳۱/۱) یو ځل حضرتِ زَکَرِیَّا عَلَیۡہِالسَّلَام هغے نه د میوو په باره کښے تپوس اوکړو چه هغه په قرآنِ مجید دریمه سیپاره سُوْرَۃُ آلِ عِمران آیت نمبر 37 کښے داسے اِرشاد کیږي:

قَالَ یٰمَرْیَمُ اَنّٰى لَكِ هٰذَا ؕ [مَفھُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: اُوئے وئیل اے مریم! دا تا له د کوم ځائے نه راغلي دي؟ (پ۳، آل عمران:۳۷)

د ماشوم والي په هغه وړوکي شان عُمر کښے هغه ماشومے ښتګه د ايمان نه ډك جواب ورکړو، چنانچه هُم دغه آيت کښے داسے ذِکر دي:

قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ یَرْزُقُ مَنْ یَّشَآءُ بِغَیْرِ حِسَابٍ [مَفھُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: هغے اُووئيل، هغه د الله له طرفه دي، بيشکه الله چه چا له اوغواړي بے حسابه ورکوي. (پ۳، آل عمران:۳۷)

## د حضرت زَکَرِیَّا عَلَیْہِ السَّلَام دعا

حضرتِ زَکَرِیَّا عَلَیْہِ السَّلَام چه کله د هغه ماشومے دا کرامت اوليدلو چه هغے له بے موسمه جَنَّتي ميوے راځي او د هغے هغه جواب ئے واوريدلو نو د هغوئي په زړه کښے د ځوئ شوق پيدا شو (المرجع السابق، تحت الآیۃ:۳۸، ۳/۳۹۰، بتغیر قلیل) هغه وخت هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام او د هغوئي زوجه محترمه دواړه زاړه عُمر ته رسيدلي وو او په دغه عُمر کښے عام طور اولاد نه کيږي، خو هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام يقين اوکړو چه کوم **ربّ** دے ماشومے ته بے موسمه ميوے ورکولو باندے قادِر دے او کوم **ربّ** چه د بيت الـمقدس د خدمت د پاره د هلك په ځائے جينئ او د ځوان په ځائے ماشومه قبوله کړي ده او چا چه دے ماشومے ته په ماشوم والي کښے د خبرو کولو طاقت ورکړے دے او خوك چه بغير د ګُمان نه رِزق ورکولو باندے قادِر دے هغه **ربّ** زما په شان د ډير عُمر کس او زما شنډے ښځے ته اولاد ورکولو باندے هُم قادِر

دے، چنانچه په هُم هغه وخت او په هم هغه ځائے کښے، کوم ځائے کښے ئے چه د هغه ماشومے سره خبرے شوي وے، د **اللّٰه** تعالیٰ نه سوال اوکړو. داسے عرض ئے اوکړو چه: یا **اللّٰه!** ما ته په دے بوډا والي کښے خاص له خپله طرفه یو پاك او سُتره ځوئ راکړے، ته دُعاګانے قبلوونکے ئے. چه تا د **حَنَّه** دُعا قبوله کړي ده نو زما دُعا به هُم ضرور قبوله کړے. (المرجع السابق، ۳/۳۹۰، بتغیر قلیل وملتقطاً) په قرآنِ کریم کښے د هغوئي په هغه ځائے کښے د دُعا کولو ذِکر موجود دے، چنانچه دریمه سیپاره، سُورۂ آلِ عمران ، آیت نمبر 38 کښے اِرشاد کیږي:

**هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهٗ ۚ قَالَ رَبِّ هَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۚ اِنَّكَ سَمِيْعُ الدُّعَآءِ(۳۸)**

(پ۳، آلِ عمران:۳۸)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان : هُم دلته زکریا عرض اوکړو خپل رب ته، اوئے وئیل: اے ربه زما! ما ته راکړے له خپله طرفه سُتره اولاد، بیشکه هُم ته ئے دُعا اوریدونکے.

**اللّٰه** پاك د هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام دُعا قبوله کړه او څه موده پس د هغوئي یو نیك او صالِح فرزند پیدا شو او د هغه نوم "**یَحییٰ**" کیښودے شو. د حضرتِ زکریا عَلَیْہِ السَّلَام په شان د هغوئي ځوئ حضرتْ **یَحییٰ** عَلَیْہِ السَّلَام هم د نُبُوَّت په مَنصَب فائِز شو.

او حضرت مریم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہَا ته **اللّٰه** پاك بے پلاره د حضرتِ عیسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام په صورت کښے فرزند ورکړلو. **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د حضرت مریم د واقعے نه حاصل مدني ګل

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د حضرت مریم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہَا په دے واقعه کښے زمونږ د پاره ډیر مدني ګُلونه موجود دي. یوه خبره خو دا معلومه شوه

- چه خوك د **اللّٰه** پاك نه د رحمت اُمِید ساتي د هغه اُمِّید پوره کیږي. بله دا
- چه کله هُم د **اللّٰه** تعالیٰ په دَربار کښے په خالِص نِیَّت او د زړه د اِخلاصه دُعا اوکړے شي هغه ضرور قبلیږي.

سوچ اوکړئ! چه د حضرت مریم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہَا والده حضرت حَنَّه رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہَا د **اللّٰه** په دربار کښے سوال اوکړو نو د بوډئ کیدو باوجود چه په هغه عُمر کښے عام طور اولاد نه کیږي، **اللّٰه** پاك هغے ته داسے لُور ورکړه چه هغه مور زاده (یعني پیدائشي) وَلِیَّه وه، او دا حال ئے وو چه د پیٔ خښلو په عُمر کښے ترینه کرامتونه ظاهریدل.

د دے آیت نه نور هُم ډیر مَدَنـي ګُلونه حاصلیږي، چنانچه **حضرت** مُفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: ( د دے نه دا خبره معلومه شوه چه) د څه خلقو د پاره خپل ځان د دِین د پاره خالِص کول ضروري دي، که ټول خلق په دُنیا کښے مشغول شي نو دِین به څنګه قائم پاتے شي . کاش چه مسلمانان د دے نه عبرت حاصل کړي او خپل بعضے

اولاد د دِین د خدمت د پاره وقف کړي او هغوئي د ماشوم والي نه د دے د پاره تیار کړي، خو افسوس چه اوس د مسلمان په نظر کښے د ډوډۍ [یعني مال دولت اهمیت] پاتے دے، خو یاد ساتئ چه ستاسو عِزَّت د دین په وجه دے او د دِین باقي پاتے کیدل د علماء او صالِحِینو په وجه دي. که خپله بقا [یعني پاتے کیدل] غواړئ نو خپله ډله کښے داسے خلق زیات جوړ کړئ. (تفسیر نعیمی، پ۳، آلِ عمران، تحت الآیۃ:۳۶،۳/۳۷۵) **ربِّ کریم** فرمائي:

فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآىِٕفَةٌ لِّیَتَفَقَّهُوْا فِی الدِّیْنِ (پ۱۱، التوبہ:۱۲۲)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: نو داسے ولے نه کوي چه د هغوئي د هرے ډلے نه یو ټولګے اُوځي چه د دین پوهه حاصله کړي.

## د بُزرګانو د دُعا بَرَکتونه

**حَکِیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ د یوے نُکتے طرف ته رهنمائي کوي، فرمائي چه یوه خبره دا هُم معلومه شوه چه د بزرګانو په دُعا **اللہ** رَبُّ الۡعِزَّت خپل قانون بدلوي، ۞ اوګورئ! **ربّ** تعالیٰ د حضرتِ حَنَّه په دُعا د هغه زمانے شرعي قانون بدل کړو ۞ د حُضُور عَلَیۡہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام په خواهش ئے د بیتُ المقدس د قبله کیدلو قانون بدل کړو [او کعبه مُشَرَّفه ئے قِبله اوګرځوله] ۞ د حضرت اِبراهِیم عَلَیۡہِ السَّلَام او زَکَرِیا عَلَیۡہِ السَّلَام په دُعا ئے شنډو زړو ښځو ته اولاد ورکړو، دا هُم د قانُونِ وِلادَت خلاف دي ۞ د حضرت عیسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام په دُعا ئے د آسمان نه د ډوډۍ او مهیانو دسترخوان نازِل کړو حالانکه آسمان نه د اوبو راتلو قانون دے، د هغه ځائے نه د ډوډۍ راتلو قانون نه دے

۞ د حضرتِ حِزقِیل او عُزَیر عَلَیۡہِمَاالصَّلٰوۃُوَالسَّلَام په دُعاګانو ئے سوونه کلونه مخکښې مړه شوي ژوندي کړل، حالانکه د قیامت نه مخکښے مړے ژوندے کیدل خلافِ قانون دي.

معلومه شوه چه:

*نگاہِ مردِ مومن سے بدل جاتی ہیں تقدیریں* (المرجع السابق)

[یعني د الله د نیکو بندګانو په بَرَکت تقدیرونه بدلیږي]

مفتي صاحب رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ یوه بله نکته بیانوي، فرمائي: د دے نه دا هُم معلومه شوه چه د نُزُولِ رحمت په وخت کښے دُعا کول سُنَّتِ انبیاء دي. اوګورئ! حضرتِ زَکَرِیَّا عَلَیۡہِ السَّلَام حضرتِ مریم (رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہَا) سره بے موسمه میوے اولیدلي نو دُعا ئے اوکړه. حدیث شریف کښے دي چه د باران په وخت کښے دُعا غواړئ ځکه چه دا د رحمت نازلیدو وخت دے. (المرجع السابق، تحت الآیۃ:۳۸، ۳/۳۹۱)

## دولسو مَدَني کارونو کښے یو مَدَني کار "علاقائي دَوره"

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ذیلي حلقے دولسو مدني کارونو کښې پوره پوره حِصَّه اخلئ. دولسو مَدَني کارونو کښے یو مَدَني کار "**علاقائي دَوره**" هُم ده، چه د دے په ذریعه کور په کور، دُکان په دُکان خلقو ته د نیکئ دعوت ورکولے کیږي. د سُنَّتو د تربِیَّت د پاره سفر کوونکو **مَدَني قَافِلو** په شیډول کښے خو هره ورځ د مازدیګر د لمانځه نه پس "**علاقائي دوره**" شامله ده، د دے نه علاوه علاقو او حَلقو کښے هفته وار دا مَدَني کار تنظیمي طور مقرر دے. ډیر خوش نصیبه عاشقانِ رَسُول هفته کښے د یو ځل نه زیات هُم د "**علاقائي دَورے**" سعادت حاصلوي، "**علاقائي دوره**" ډیر زیات اَهم مَدَني کار دے، ځکه

چه د دے مَدَني کار په ذریعه **جُماتونه** آباديږي، ”**علاقائي دوره**“ د نیکئ د دعوت فضائل حاصلولو بهترینه ذریعه ده، د ”**علاقائي دورے**“ په ذریعه د عِلمِ دین زده کولو موقع حاصليږي. د ” **علاقائي دورے**“ په بَرَکت د **نفلي اِعتِکاف** سعادت حاصليږي، ”**علاقائي دوره**“ د **مَدَني تربِیَّت** بهترینه ذریعه ده، د ”**علاقائي دورے**“ په بَرَکت د ”**سلام**“ سُنَّت هُم عام کيږي. ”**علاقائي دوره**“ کښے **د نفس مخالَفَت** او د **تَکَبُّر** علاج هُم کیدے شي، ”**علاقائي دوره**“ د **مَدَني قَافِلو** تیارولو مشین دے. ”**علاقائي دوره**“ د دعوتِ اسلامي د مَدَني کارونو د **ترقئ** باعث جوړيږي.

د ”**علاقائي دورے**“ یو مَدَنـي سپرلے واوروئ او پابندئ سره د **علاقائي دَورے** کولو نِیَّت اوکړئ. چنانچه

## عیسائي مسلمان شو

د **خانپور** (پنجاب) د یو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامی بیان دے چه د **بابُ الْمَدینه** کراچئ نه د سُنَّتو د تربیت حاصلولو د پاره یوه **مَدَنی قافله** راغلي وه، هغوئي سره ما ته هم د نیکئ د دعوت په علاقائي دوره کښے د شریك کیدو سعادت حاصل شو. د یو درزی دُکان خوا ته مو خلق را جمع کړي وو او د ”**نیکئ دعوت**“ مو ورکولو. کله چه بیان ختم شو نو په هم هغه دُکان کښے په مزدورئ کار کوونکي یو ځلمي اووئیل چه ”زه عیسائي یم. ستاسو د نیکئ دَعوت زما په زړه ډیر زیات اثر اوکړو. مهربانی اوکړئ او ما په اسلام کښے داخل کړئ.“ اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه مسلمان شو.

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَــبِــيْــب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# تَذکِرہ بابا فریدُ الدِّین گنج شَکر

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! راځئ چه د یو بل وَلِیُّ الله د ماشوم والي کرامت واورو. او د هغوئي نوم دے بابا فرید الدِّین مسعود گنجِ شَکَر چشتـي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ.

حضرت بابا فریدُ الدِّین گنجِ شَکَر رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په یوه نیکه کورنۍ کښے پیدا شوے وو. د هغوئي والِد محترم قاضي سُلیمان عالِمِ دِین وو او والده محترمه رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہَا ئے هُم نیکه، لـمونځ گُزاره او تَهَجُّد گُزاره کیدو سره سره د الله تعالیٰ وَلِیَّه هُم وه (انوار الفرید، ص۴۳، حیاتِ گنج شکر، ص۲۵۳وغیرہ) یو ځل په یو کم دیرشم شَعبان آسمان په وریَځو کښے پټ وو. په هغه علاقه کښے به یو اَبدال اوسیدلو خلق د هغه اَبدال رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ څنګ ته ورغلل او د رمضان د روژے په باره کښے ئے ترینه تپوس اوکړلو نو هغوئي اُوفرمائیل چه نن شپه به قاضي سُلَیمان کره یو هلك پیدا کیږي او هغه به د دے وخت قُطب وي. که هغه ماشوم صبا پئ اُو نه خښل نو تاسو روژه اونیسئ او که اُوئے خښل نو مه ئے نیسئ. چنانچه په هُم هغه شپه د قاضي سُلَیمان رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ یو نیك بخته ځوئ پیدا شو او هغه صبا له پئ اُو نه خښل، بیا خلقو هُم روژه اُونیوله. دا ماشوم بل څوك نه وو بلکه بابا فریدُ الدِّین گنجِ شَکَر رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ وو. (اقتباس الانوار، ص۴۳۴، حیاتِ گنج شکر، ص۲۵۵)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تاسو واوریدل چه زمونږه د بُزرګانو ماشوموالے به داسے وو چه هغوئي به د پیدائش سره روژه نیوله. لِـهذا مونږ له هُم پکار دي چه په خپلو زړونو کښې د الله تعالیٰ د عبادت شوق پیدا کړو، د الله تعالیٰ د رضا حاصلولو د پاره

ډیر ډیر عبادتونه اوکړو، د پینځه وخته لـمانځه پابند جوړ شو او ټول عُمر د فرائضو او واجباتو پابندي اوکړو او د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سُنَّتو مطابق د خپل ژوند تیرولو کوشش اوکړو.

مونږ ته پکار ده چه مونږه هُم د خپلو بزرګانِ دِین په نقشِ قدم روان شو او ډیر ډیر عِلمِ دِین حاصل کړو. زمونږه بزرګانِ دِین به د عِلم حاصلولو ډیر شوق لرلو، څنګه چه منقول دي چه،

## د شَرفِ بَیعَت واقعه

د طالِب عِلمئ په دوران کښے به حضرت بابا فرید ګنج شَکَر رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ جُمات ته تشریف یوړلو او مخ په قِبله به کښیناستلو او خپل سبقونه به ئے یادول. یو ځل سلطانُ المَشائِخ حضرت قُطبُ الدِّین بختیار کاکي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ مُلتان ته تشریف راوړے وو او هُم هغه جُمات ته ئے تشریف راوړلو. حضرت بابا فرید ګنجِ شَکَر رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ حَسبِ عادت په مطالَعه کښے مصروف وو چه یو خوشګوار احساس ئے په زړه کښے پیدا شو او د هغے په وجه ئے نظر اوچت کړلو. چه څنګه ئے سترګے راپورته کړے نو د ولئِ کامِل د روښانه او نُوراني مخ په کتلو ئے سترګے یخے شوے، چنانچه ناڅاپه د احترام د پاره اودریدلو او نزدے ورغلو او په ګونډو [په ادب] کښیناسلو. حضرت قُطبُ الدِّین بختیار کاکي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ چه د **تَحِیَّۃُ الْمَسجِد** (د نفلو) نه فارغه شولو نو تپوس ئے ترینه اوکړلو چه څه سبق وائے؟ بابا فرید ګنجِ شَکَر رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ عرض اوکړو چه د فِقه کتاب "**اَلنّافِع**" لوَلَم. هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ورته اُوفرمائیل: آیاسو تا ته معلومه ده چه د دے کتاب نه به [تاسو ته] نفع [یعني فائده] کیږي؟ بابا فرید رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ عرض اوکړو: حُضُور [یعني محترمه]! نفع

[یعني فائده] خو به ستاسو په نظرِ کرم کیږي. په دے جواب باندے حضرت قُطبُ الدِّین بختیار کاکي رَحۡمَۃُاللهِعَلَیۡه ډیر خوشحاله شو او په هغوئي ئے شفقت [یعني مهرباني] اوکړله او په خپلو مُرِیدانو کښے ئے شامل کړو. چه کله حضرت قُطبُ الدِّین بختیار کاکي رَحۡمَۃُاللهِعَلَیۡه د مُلتان شریف نه بیرته تشریف وړلو نو بابا فرید رَحۡمَۃُاللهِعَلَیۡه هُم ورپسے روان شو. حضرت قُطبُ الدِّین بختیار کاکي رَحۡمَۃُاللهِعَلَیۡه ورته اُوفرمائیل: **مخکښے ښه ډیر عِلمِ دِین** حاصل کړه، بیا زما خنګ ته دهلِي ته راشه ځکه چه بے عِلمه زاهِد (یعني بے عِلمه پرهیزګار) د شیطان مسخره (یعني د شیطان د لوبو څیز) وي. (سیر الاولیاء مترجم، ص۱۲۱، خزینة الاصفیاء، ۲/۱۱۰ملخصاً)

## د عِلم حاصلولو بَرَکتونه

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چه د عِلمِ دِین حاصلولو بَرَکتونه واورو. عِلم دِین حاصلول ډیر لوئ سعادت او افضل عبادت دے. د علم د رنړا په وجه د جِهالَت او ګُمراهئ د تِیارو نه نجات حاصلیږي، صرف د عِلم په وجه د **الله** پاك پیژندل نصیب کیږي. د عِلم نه بغیر د عمل کوونکي اعمال اکثر د صحیح کیدو په ځائے غلط او د ثواب حاصلیدو په ځائے د عذاب باعِث جوړیږي. د عِلمِ دِین حاصلولو ذِهن جوړولو د پاره په دے د فساد نه ډك دَوَر کښے "**مَدَني چینل**" یو ډیره ښه ذریعه ده، ۞ مَدَني چینل باندے چلیدونکي د عِلمِ دِین نه ډك **مختلف** پروګرامونو کتلو سره د عِلمِ دِین حاصلولو جذبه حاصلیږي، **هفته واره مَدَني مُذاکَره** بخپله هُم پابندئ سره ګورئ او د خپل کور کسانو ته هُم د دے د کتلو ترغیب ورکوئ، د دے کتلو سره به هُم ډیر عِلم دِین حاصل شي او د نور عِلم حاصلولو جذبه به پیدا شي ۞ د دعوتِ اسلامي **هفته واره**

**د سُنَّتو ډكه اِجتِماع** كښے پابندئ سره شركت كولو سره هُم د عِلمِ دين حاصلولو جذبه زياتيږي ۞ **ماهنامه فيضانِ مدينه** لوستلو سره هُم د عِلمِ دين حاصلولو جذبه زياتيږي ۞ **قافلو** كښے سفر كولو سره هُم د عِلمِ دِين حاصلولو جذبه زياتيږي. ۞ هفته واره مَدَني رِساله لوستل هُم خپل معمول جوړ كړئ، د دے په بَرَكت هُم د عِلمِ دِين حاصلولو جذبه زياتيږي. ۞ د دعوتِ اسلامي د ويب سائټ (www.dawateislami.net) وِزِټ اوكړئ، په هغے كښے بيشميره موضوعاتو باندے (آډيو/ويډيو) د سُنَّتو ډك بيانونه او مَدَني مُذاكَرے وغيره د كتلو اوريدلو په بَرَكت او په هغے كښے د عِلمِ دِين نه ډك كتابونه د لوستلو په بَرَكت به مو د عِلمِ دِين شوق پيدا شي ۞ عِلمِ دِين حاصلولو سره د انسان ژوند ښكلے او كامياب شي ۞ عِلمِ دين حاصلولو سره د بنده دُنيا او آخرت دواړه ښائسته كيږي ۞ په قرآن و حديث كښے د عِلمِ دين حاصلولو ډير فضيلتونه بيان شوي دي (بهارِ شریعت، ۶۱۸/۳ بتغیر)

ياد ساتئ! د بعضے عُلومو حاصلول فرض دي، ځنګه چه حُضُور نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي چه: "**طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ**" يعني عِلم حاصلول په هر مسلمان فرض دي. (ابن ماجه، كتاب السنة، باب فضل العلماء...الخ، ۱۴۶/۱، حديث: ۲۲۴) د دے حديثِ پاك نه د اسكول، كالِج دُنيوي تعليم مُراد نه دے بلكه د دے نه ضروري دِيني عِلم مُراد دے. ۞ لِهذا د ټولو نه مخكښے اسلامي عَقائد زده كول فرض دي ۞ د هغے نه پس د لمانځه فرائض، شرائط و مُفسِدات (يعني لمونځ ځنګه صحيح كيږي او ځنګه ماتيږي دا) زده كول فرض دي ۞ بيا چه رَمَضَانُ الْمُبَارَك راشي نو په چا باندے چه روژے فرض وي د هغه د پاره د روژو ضروري مسائل (زده كول فرض دي) ۞ هُم دغسے د حج فرض كيدلو په

صورت کښې د حج مسائل (زده کول فرض دي) ۞ که نڪاح کول غواړي نو د هغې (مسائل زده کول فرض دي) ۞ تاجِر د پاره د تِجارت (مسائل زده کول فرض دي) ۞ باطِني ګناهونه مَثَلًا تَڪَبُّر، رياکاري، حَسد، بدګماني، بُغض و کِينه، شُماتَت (يعني د يو مسلمان په مصيبت خوشحاليدل) وغيره او د دے علاج زده کول (هُم) هر مسلمان باندے فرض دي. ۞ د مُهلِکاتو يعني هلاکت کښې د اخته کوونڪو څيزونو لکه وعده خلافي، دروغ، **چُغلي**، بُهتان، بد نظري، ټګي [دهوکه] او ايذائے مُسلِم يعني مسلمان ته تکليف ورکول وغيره وغيره د ټولو صغيره او کبيره ګناهونو په باره کښې ضروري اَحکام زده کول هُم فرض دي د پاره د دے چه د دے [ګُناهونو] نه ځان اوساتي. (نیکی کی دعوت، ص۱۳۵ بتغیر) د دے عُلومو نور تفصيل معلومولو د پاره د اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د تصنيف "**نیکی کي دعوت**" صفحه 135 لوستل ډير زيات فائده مند دي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ عِلمِ دِين يو لازوال دولت دے،عِلمِ دِين د انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام ميراث دے، علمِ دين د هدايت چينه ده، علمِ دين د دُنيا او آخرت د عِزَّت موندلو سبب دے.

راځئ چه د علمِ دين حاصلولو په فضائلو مشتمل روايات وارو: چنانچه،

د حضرتِ سَيِّدُنا حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه مُرسلًا رِوايت دے چه نبي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا ته چه په دے حالت کښې مرګ راشي چه هغه د اسلام د سربُلندئ د پاره عِلم زده کوي نو په جَنَّت کښې به د هغه او د انبياء عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام په مينځ کښې د يوے درجې فرق وي. (يعني هغه به د هغوئي نزديکت حاصلوي)

(سنن الدارمی، المقدمة، باب فی فضل العلم والعالم، الحديث: ۳۵٤، ج۱، ص۱۱۲)

حضرتِ سَیّدُنا صَفوان بن عَسَّال المُرادي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه زه د رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښے حاضر شوم نو هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په جُمات کښے خپل (د کربنو والا) سُور کمبل ته ډډه وهلے تشریف فرما وو، ما عرض اوکړو چه یَارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زه د عِلم حاصلولو د پاره راغلے یم نو هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: "طالِبُ العِلم ته خُوش آمدید [یعني هر کلے]، بیشکه طالِبُ العِلم ملائکے [یعني فرښتے] په خپلو وزو کښے پټ کړي بیا په هغوئي کښے بعضے ملائکے په نورو بعضو ملائکو باندے سورلي کوي او د عِلم د طلب په وجه د طالِبُ العِلم په مَحَبَّت کښے دُنیاوي آسمان ته اورسیږي."

(اَلتَّرغِیْب وَالتَّرهِیْب، کتاب العلم، الترغیب فِی العلم وطلبه، الحدیث:۱۰۹ ج۱ ص٦٦)

د حضرتِ سَیّدُنا ابو درداء رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دے چه ما د نبي کریم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه ارشاد اوریدلے دے چه "څوك د عِلم په تلاش کښے په کومه یوه لاره روان شي نو الله تعالیٰ د هغه د پاره د جَنَّت لار آسانه کړي او بےشکه فرښتے د طالِبِ عِلم د عمل نه خوشحاله شي او د هغه د پاره خپلے وزرے خوروي او بےشکه په زمکه او آسمان کښے اوسیدو والا تر دے چه په اوبو کښے مهیان د عالِمِ دِین د پاره استِغفار کوي او د عالِم په عابِد باندے فضیلت داسے دے څنګه چه د څوارلسمے د سپوږمۍ په نورو ستورو باندے، او بےشکه عُلَماء د انبیاء عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام وارِثان دي، بےشکه انبیاء عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام د دِرهم او دِینار وارث جوړول نه کوي بلکه دا نُفُوسِ قُدسِیه [یعني پاکے هستیانے] عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام خو صرف دعِلم وارثان جوړوي نو چا چه دا حاصل کړو هغه غټه حِصَّه اُوموندله." (سُنَنِ اِبنِ مَاجَه کتابُ السُنَّة، باب فضل العُلَمَاء...الخ ج۱ ص۱٤٥ الحدیث۲۲۳)

اے عاشقانِ رَسُول! تاسو واوریدل چه د عِلمِ دِین حاصلولو څومره ښکلي فضائل دي. کاش! چه مونږه ټپله هُم عِلمِ دِین حاصل کړو او خپل اولاد هُم د دعوتِ اسلامي په **جَامِعَةُ الْمدِینه** کښے د عِلمِ دین حاصلولو د پاره داخل کړو او خپل ځان د پاره صدقۀ جاریه پریښودلو کښے کامیاب شو. **اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد**

## تذکِره بهاءُ الدِّین مُلتاني رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د بعضے اولیائے کرامو د ماشوم والي په باره کښے بیان اوریدلو ، په هغوئي کښے یو حضرت شیخ بهاءُ الدِّین زَکَرِیا ملتاني رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ هُم شامل دے. هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ هُم پیدائشي ولي وو، او د بزرګئ نښے خوئے د پیدائش د وخت نه ښکاره شوي وے. منقول دي چه هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ به ماشوم والي کښے هُم په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** کښے پئ نه څښل (تذکرہ حضرت بہاء الدین زکریا ملتانی، ص۴۰، اللہ کے ولی، ص۴۰۲ ملخصًا) د **هغوئي** رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په ماشوم والي کښے د **وَلِیُّ الله** کیدو یوه نښه دا هُم ده چه کله به د هغوئي والِد صاحِب حضرت وجیهُ الدِّین محمد غوث رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د هغوئي خوا ته د قرآنِ مجید تلاوت کولو نو هغوئي به د مور پئ څښل پریښودل او د تِلاوت طرف ته به مُتَوَجِّه شولو، لکه قرآنِ مجید چه اوري. (تذکرہ اولیائے پاک و ہند، ص۳۶، تذکرہ حضرت بہاء الدین زکریا ملتانی، ص۴۰، اللہ کے خاص بندے، ص۵۴۰، اللہ کے ولی، ص۴۰۳ ملخصًا) د **وَلِیُّ الله** کیدو باوجود چه حضرت شیخ بهاءُ الدِّین زکریا رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ څنګه د شعُور عُمر ته اورسیدلو نو عِلمِ دِین زده کولو ته مُتَوَجِّه شولو. د **الله** پاك د عطا کړو صلاحیتونو په بَرَکت او د اُستادِ مُحترم په شفقت او مهربانئ هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ صرف د 7 یا 12 کالو په عُمر کښے پوره قرآنِ

مجید د سَبعه قراءَت (یعني د 7 مختلفو قراءَتونو) سره حفظ کړلو. بیا ئے د مُقامي استاذانو نه اِکتِسابِ عِلم اوکړو. (تذکرہ اولیائے پاک وہند، ص۳۶، تذکرہ حضرت بہاء الدین زکریا ملتانی، ص۴۰، اللہ کے خاص بندے، ص۵۴۰، اللہ کے ولی، ص۴۰۳ ملخصاً) حضرت شیخ بهاءُ الدِّین زکریا مُلتاني رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه لا د دولسو کالو وو چه د والِد محترم رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه سورے ئے د سر نه لرے شو [یعني والِد صاحب رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه ئے وفات شولو]. د هغوئي تره حضرت شیخ احمد غوث رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه د هغوئي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه په سر باندے د والد محترم دَستار اوتړلو او د پلار نیکه په مَسنَد ئے کښینولو او د خانقاه ټول انتظامات ئے هغوئي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه ته حواله کړل. (تذکرہ حضرت بہاء الدین زکریا ملتانی، ص۴۱ ملخصاً، تذکرہ اولیائے پاک وہند، ص۳۶ ملخصاً) خو هغوئي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه خپل کاکا جان ته عرض اوکړو چه ټول انتظامات تاسو سنبال کړئ او ځپله ئے ترینه د عِلمِ دِین حاصلولو اجازت اوغوښتلو او د هغوئي په اجازت عِلمِ دِین حاصلولو د پاره لاړلو. (اللہ کے ولی، ص۴۰۳، ۴۰۴)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږ له هُم پکار دي چه د خپل اولاد یا خوك چه زمونږه په سرپرستئ کښے دي هغوئي ته د عِلمِ دِین حاصلولو ترغیب ورکړو او په هغوئي کښے چه څوك د عِلمِ دِین حاصلولو شوق لري د هغوئي حوصله افزائي هُم اوکړو او چه څومره کیدے شي د هغوئي مدد هُم اوکړو.

## د اولاد دِیني تربِیَّت اوکړئ

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** یاد ساتئ! چه زمونږه ګران ځوئ، زمونږه د ځیګر ټُکړه او د مور و پلار د سترګو تور سهي خو دا خبره مه هیروئ چه هغه د **اللّٰه** پاك بنده او د هغه د خوږ حبیب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُمَّتي او د اسلامي معاشرے یو نفر دے، که مونږه په خپل

تربِيَّت هغه ته په صحيح طريقه باندے د **الله** پاك عبادت كول او د حُضُور نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّتونه او په اسلامي معاشره كښے د هغه ذِمَّه واري اُو نه ښودله نو بيا دا خوبونه ليدل هُم نه دي پكار چه هغه به فرمانبردار اولاد جوړ شي ځكه چه هغه صرف اسلام دے چه انسان ته د خپل مور او پلار د فرمانبردارئ او د هغوئي د حُقوقو د ادا كولو درس وركوي. هم دا خبره ډيره ليدلے كيږي چه كله د اولاد د تربِيَّت كولو نه د غفلت اثرات ښكاره شي نو هُم دا مور او پلار بيا هر چا ته د خپل اولاد د ورانيدو او نافرمانه كيدو ژړاګانے كوي، هغوئي ته دا احساس پكار دے چه كيدے شي چه اولاد دے حال ته زمونږ د لاسه را رسيدلے وي، مور و پلار ته غور كول پكار دي چه مونږه خپل اولاد ته ABC خو زده كړي دي خو د قرآن تعليم مو نه دے وركړے، مغربي رسم و رواج خو مو ورته ښودلي دي خو د رَسُولِ عَرَبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّتونه مو ورته نه دي ښودلي، د جنرل نالِج (يعني د معلوماتِ عامّه) په اَهَمِّيَّت خو مو څو څو ګينټے ليكچرے وركړي دي خو د فرضو دِيني عُلُومو شوق مو نه دے وركړے، د هغه په زړه كښے مو د مال مَحبَّت اچولے دے خو د عِشقِ رَسُول شمع مو پكښے نه ده روښانه كړے، په زړه كښے مو ورته د دُنيوي ناكامئ ويره اچولي ده خو د قَبْر او حَشر د امتحان د ناكامئ نه مو نه دے يَرولے، "هَيلو!، هائے!، هاؤ آر يُو!" مو ورته زده كړي دي خو د سلام كولو صحيح طريقه مو ورته نه ده ښودلي.

اَلْحَمْدُلِلّٰه د دے مقصد حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول يو زبردست نعمت دے. د دعوتِ اسلامي "**مَدَني چينل**" چه څنګه د هرے شُعبے د عاشقانِ رَسُول رهنمائي كوي نو دغسے هره ورځ مازديګر **4:00** نه واخله **6:00** بجو پورے بِالخُصُوص د

ماشومانو د پاره مدني چينل فور کِډز (يعني د ماشومانو د پاره مَدَني چينل) شروع کول هُم د يو نعمت نه کم نه دي. د ماشومانو مَدَني چينل کښې اَلْحَمْدُلِلّٰه د نورو مُبَلِّغِينو سره سره پخپله اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه او نګرانِ شُورىٰ هُم د ماشومانو تربِيَّت کوي.

اے عاشقانِ رَسُول! څنګه چه د ماشومانو د دُنيوي تعليم و تربِيَّت حاصلولو د پاره د سکول او ټيوشن پابندي کيږي، کاش چه هُم دغسے په هم دے وختونو کښې [يعني مازديګر 4:00 نه واخله 6:00 بجو پورے] ماشومان صرف د مَدَني چينل کتلو پابند کړے شي، مونږ ته پکار ده چه کوشش اوکړو، بيا ګورئ چه څنګه بَرَکتونه ښکاره کيږي.

د قرآن و احادِيث او د بُزرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی د اقوالو په رنړا کښے د اولاد تربِيَّت طريقه باندے ځان پوهه کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه د 188 صفحاتو کتاب ”تربِيَّتِ اولاد“ ضرور اولوَلئ. (نیکی کی دعوت، ص۵۴۶ ملخصًا)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# مجلس ذرائع آمد و رفت

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه د عاشقانِ رَسُول د مَدَني تحريك دعوتِ اسلامي زيات و کم 107 شُعبه جات قائم دي، په هُم دے کښے يوه شُعبه ”مجلِس ذرائع آمد و رَفت“ هم ده، د دے شُعبے کار د ائيرلائنز، ائيرپورټس، ريلويز، پبلِك ټرانسپورټ، پرائيويټ ټرانسپورټ، ګډز ټرانسپورټ او دے سره تَعَلُّق لرونکو مختلفو اډو او مارکيټونو او شورومونو سره تَعَلُّق لرونکو اِسلامي ورونړو ته د عاشقانِ رَسُول د مَدَني تحريك دعوتِ

اسلامي مَدَني پيغام رسَوَل او هغوئي د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول سره وابسته کول او د دے مَدَني مقصد چه "**ما ته د خپل ځان او د ټولے دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" مطابق د ژوند تیرولو ذِهن ورکول دي.

اللہ کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں — اے دعوتِ اسلامی تِری دھوم مچی ہو

**اللّٰہ دِ کرم اوکړي په تا داسے په جهان کښے — اے دعوتِ اسلامي ته دِ عام شے په هر ځائے**

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! — صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په آخره کښې د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب د بیانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چه زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چه زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا — جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

**سِینه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا — جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا**

# د اذان سُنَّتونه او آداب

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چه د اذان د سُنَّتونو او آدابو په باره کښے د یو څو مَدَنـي ګُلونو اوریدلو ثواب حاصل کړو. مخکښے دوه فرامین مُصطَفیٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واورئ: چنانچه

﴿۱﴾ خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: د ثواب د پاره اذان کولو والا د هغه شهید

په شان دے چه هغه په وِینه کښے لړلے شوے دے او چه کله مړ شي نو په قبر کښے به د هغه په بدن کښے چینجي نه کیږي. (اَلْمُعْجَمُ الْکَبِیر لِلطَّبَرانی ج۱۲ ص۳۲۲ حدیث۱۳۵۵٤)

﴿۲﴾ خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: زه جنَّت ته لاړم، په هغے کښے مے د ملغلرو ګُنبدے اولیدلے د هغے خاوره د مُشکو ده. تپوس مے اوکړو: اے جبرئیل! دا د چا د پاره دي؟ عرض ئے اوکړو: ستاسو صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُمَّت د **مُؤَذِّنانو** او اِمامانو د پاره. (اَلْجَامِعُ الصَّغِیر لِلسُّیُوطی ص۲۵۵ حدیث٤۱۷۹)

۞ نبيءِ اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په سفر کښے یو ځل اذان کړے وو او کَلِماتِ شهادت ئے داسے لوستلي وو: **اَشْهَدُ اَنِّیْ رَسُوْلُ الله** (زه ګواهي ورکووم چه زه د الله رسُول یم) (فَتَاویٰ رَضَوِیّه مُخَرَّجه ج۵ ص۳۷۵ ، تُحفَةُ الْمُحتاج، ج۱ ص۲۰۹)

۞ په کومه استوګنه [یعني آبادئ] کښے چه اذان اوکړے شي، **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د خپل عذاب نه په هٰغه ورځ هغے ته امن ورکوي. (اَلْمُعْجَمُ الْکَبِیر لِلطَّبَرانی ج ص حدیث)

۞ **پینځه** واړه فرض لمونځونه، په دے کښے جُمُعه هم شامله ده چه کله د جَماعَتِ اُولٰی [یعني د وړومبئ جَمعے] سره په جُمات کښے په وخت ادا کړے شي نو د هغے د پاره اذان سُنَّتِ مُؤَکَّده دے او د دے حُکم د واجِب په شان دے چه که اذان اونکړے شو نو د هٰغه ځائے ټول خلق به ګنهګار وي. (بَهارِ شرِیعَت ج۱ ص٤٦٤)

۞ که څوک په ښار کښے دننه په کور کښے لمونځ کوي نو د هٰغه ځائے د جُمات اذان د هغه د پاره کافي دے خو اذان کول مُستحب دي. (رَدُّالْمُحْتَار ج۲ ص۷۸،٦۲)

۞ که څوك په ښار کښے دننه په کور کښے لـمونځ کوي نو د هغه ځائے د جُمات اذان د هغه د پاره کافي دے، خو اذان کول **مُسْتَحَب** دي. (ردالمحتار،کتاب الصلاۃ،مطلب فی المؤذن...الخ،۲/ ۷۸،۶۲)

۞ که **زنانه** خپل ادا [يعني د حاضِر وخت] لمُونځونه کوي او که قضا کوي، په هغے کښے د دوئي د پاره اذان او اِقامت وئيل مکروه دي. (دُرِّ مُختار ج۲ ص۷۲)

۞ **پوهه** ماشوم هُم اذان کولے شي. (دُرِّ مُختار ج۲ ص۷۵)

۞ د **بے اودسه** کس اذان صحيح دے خو د بے اودسه کس اذان کول مکروه دي. (قانون شريعت ،ص۱۵۸)

په اذان کښے په غوږونو کښے ګوتے اينبودل سُنَّت او مُستَحب دي خو خوزَول او تاوهل ئے فُضول حَرَکت دے. (فَتَاوىٰ رَضَوِيّه ج۵ ص۳۷۳)

۞ د **سحر** په اذان کښے د حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ نه پس اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْم وئيل مُستَحب دي. (دُرِّ مُختار ج۲ ص۶۷) که چا اُو نه وئيل نو بيا به هم اذان اوشي. (قانونِ شريعت ص ۱۵۷)

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه کتابونه (۱) د 312 صفحو کتاب "بهارِشريعت" حصّه 16 او (۲) د 120 صفحو کتاب "سُنّتیں اور آداب" هديه کړئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د راروانے هفته وارے اجتماع د بیان جهلکیانے

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د آئنده هفته وارے د سُنّتو ډکے اجتماع د بیان موضوع به وي "استقامت د کامیابۍ راز دے".د کامیابۍ د پاره استقامت ولے ضروري دے؟ د استقامت حاصلولو فائدے، وغیره به بیانیږي. لِـهٰذا د الله تعالیٰ د رضا د پاره راروان زیارت له هُم اجتماع کښے د حاضرۍ نِیَّت اوکړۍ او د انفرادی کوشش کولو او نور اسلامی ورونړه ځان سره د راوستلو نِیَّت هُم اوکړۍ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښے لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانے

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چه څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعے او زیارت مینځنۍ شپه

باندے) دا دُرُود شریف پابندئ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او **قَبْر** کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دے چه سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه **قَبْر** کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندے کوزوي.[1] راځئ چه مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِ نَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دے چه تاجدارِمدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښیناستلو نه مخكښے او كه ناست وو نو اودریدو نه مخكښے به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چه مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صاوِی رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندے د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ په مينځ کښے کښينولو، دے باندے صَحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُم حيران شو چه دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتے مرتبے والا] دے! چه کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہ

1...القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چه كله په ما باندے دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئے لوَلي.[1] راځئ چه مونږه ئے هُم په شريكه اووائيو.

## ﴾6﴿ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چه داسے دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴾1﴿ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوايت دے چه سركارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دے د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورے نيكئ ليكي.[3] راځئ چه مونږه ئے هُم په شريكه اووائيو.

1...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰

3...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة...الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث:۱۷۳۰۵

## ﴿2﴾ داسے ده لکه شبِ قدر ئے چه حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه دا دُعا درے ځله اولوستله نو لکه هغه چه شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چه مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

(د خُدائے حَلیم وکریم نه سِوا هیڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، اللّٰه پاک دے چه د ووه واړو آسمانونو او د عرشِ عظِیم پروردګار دے)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

1...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/ ۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵